# د بکاخېل په بمي چاودنه کې د ترهګرو قوماندان صدیق الله هم شامل دی

ځو ورځې وړاندې په بکا خېلو کې د سړک غاړې په موټرسایکل بمي چاودنه کې بې ګناه خلک شهیدان شوي وو، په دغا حملہ کی د تي تي پي حافظ ګل بهادر ډلې سره تعلق لرونکی ترهګر کمانډر صدیق الله هم شامل و۔




## غلط داستان

**دسرچینو له مخې دبم چاؤدنې اصلي هدف سیمه ییز مشر قادر زمان و، چې د بکاخېلو اوسېدونکی دی او دترهګرو له قوماندان صدیق الله سره شخصي دښمني لري۔ تر دې پیښې وړاندې هم ترهګر صدیق الله د قادر زمان په نښه کولو هڅه کړې وه۔ قادر زمان په دغه برید کې خوندي پاتې شو، په داسې حال کې چې بې ګناه مسافر د بمي چاودنې قربانیان شول۔**

د بکاخیل قوم د کلک غبرګون لہ ویرے ترهګر صدیق الله یو ویډیوی بیان جاری کړے دے چی پکښې هغه په دغه پیښه کښې د خپل نه لاس لرلو غلط وضاحت ورکړی دی۔ پښتون قوم ترهګر او د هغوی دروغجن داستانونه ردوي۔